یادداشت پورتال افغان جرمن آنلاین
اعلامیۀ آتی طالبان را صرف جهت معلومات و آگاهی خوانندگان گرامی به نشر سپردیم و هیچگونه منظور سیاسی دربین نیست.

*************

# دلندن دکنفرانس په هکله دافغانستان داسلامي امارت د رهبری شوری اعلامیه

بسم الله الرحمن الرحیم

ټولي نړۍ ته خورا جوته ا وڅرګنده ده چې د ۱۱/ ۹ / ۲۰۰۱ م له پیښي وروسته دامریکا په مشرۍ اشغالګرو ځواکونو له تروروېزم سره دجګړې په نامه زمونږ په اسلامی امارت او ملت باندې وحشتناک او یو ناروا یرغل پیل او زمونږ ګران ټاټوبی یې یرغمل کړ.

دغه نړیوال جرم زمونږ دځوریدلي او کړیدلي غیرتي ولس ناخوالي او ستونزې لا پسې ډیرې، او ددې لا مل شو چې ددغه ځوریدلي او ناتوانه ولس په سر دظلم او زور تورې وریځې او وحشتناک موجونه را ښکاره ددیموکراسۍ، بیا رغونې او بشر دحقوقو تر نامه لاندې د وژلو، غلا، دملي او دیني ارزښتونو، تاریخي ویاړونو دسپکاوي او داسې نورو ناروا او بې حیاییو لړۍ پیل، په دغه هېواد کې وحشت او بربریت مخ په خوریدو شو.

دوی ددیموکراسۍ او بیا رغونې تر نامه لاندې دافغانستان بې وزلو او بې وسو خلکو ته یوازې او یوازې ګډوډي، بې امنیتي، چور او چپاول، بې شرمي، دمخدره او نېشه یي توکیو د تجارت رواجول، په حکومتي کړیو او دفترونو کې رشوت او اخلاقي فساد، دملي خاینینو ، دنېشه یې توکیو تجارانو، دبشري حقونو تېري کوونکي، او دخلکو دشخصي املاکو غاصبینو قدرت ته رسول، او داسې پاک او ستره انتخابات چې دتل لپاره دخلکو په ژبو متل ګرځېدلی رواړي دي او بس!

داوباما او براون تر مشرۍ لاندې جګړه خوښې واکمنۍ چې دلندن له کنفرانس نه  غواړي تر څو خپل ولسونه  په دې خبره چې نړیوال له مونږ سره دي دوکه کړي، دخپلو ملتونو او ولسونو تر کلک قهر او غوصې لاندې به راشي.

هوکې دوی پرته له هر رنګه اخلاقي او حقوقي ارزښتونو زمونږ په خاوره او کور یرغل اوتیری کړی دی، نو ځکه خو هر افغان او مسلمان په دې مکلف دی چې د خپل سر، مال، ناموس، او دیني ارزښتونو ساتنه او ورڅخه دفاع وکړي، داسلامي امارت مجاهدین دهمدې خاورې اصیل بچیان دخپل هېواد له هسکو ټیټو، لوړو ژورو سره بلد له خپل اسلامي هېواد څخه دفاع کولو ته تل تیار دي، نو ځکه خو به ماتې او خواري دنیواکګرو په برخه کیږي. ان شاالله تعالی

پاتې دې نه وي چې عالیقدر امیر المومنین ملا محمد عمر مجاهد ـ حفظه الله ـ په رسا او ښکاره ډول سره اعلان کړی چې مونږ په خپله خاوره کې دیوې اسلامي واکمنۍ غوښتونکي یو، لکه  څرنګه چې

په ځان باندې د بل د ضرر منونکې نه یو همدا رنګه  ګاونډیو او دنړۍ نورو هېوادونو ته هم دضرر رسولو هوډ او تکل نلرو، او نه به هم زمونږ خاوره دهېڅ کوم هېواد په تاوان وکارول شي،، اسلامی امارت غواړي چی دمتقابل احترام په صورت کې له ټولو ګاونډیانو سره ښې اومثبتې اړیکې ولري اوله ټولو هیوادونو سره  ددوه اړخیزي همکارۍ،اقتصادي پرمختګ اوښې راتلونکې په اړه رغنده ګامونه واخلی او له نورو څخه هم په دې هکله د رېښتینولۍ اواخلاص هیله من یو.

همدا رنګه اسلامي امارت هوډمن دی چې اسلامي بنسټونو او دننۍ نړۍ غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو سره دټولو هېوادوالو لپاره دزده کړې او تربیې په هکله رغنده او کوټلي ګامونه پورته کړي، اسلامي امارت غواړی چې دټولو ژبنیو، قومي، اوسیمه ییزو توپیرونو په یوې خوا ته کولو سره داسې زمینه مساعده کړی چې ټول هیواد وال یو او بل ته دورور ولۍ او خواخوږۍ لاسونه سره ورکړي او یو موټی شي، په خپل ګران هېواد کې دداسې یوې سوچه او پاکې اسلامي واکمنۍ تر شا په کلکه سره ودرېږي چې زمونږ داسلامي انقلاب دسپېڅلو اوپاکو شهیدانو دلوړو او هسکو هیلو او آرمانو انځورونکې، او دټول ولس دسر، مال، عزت، حیثیت، دیني ارزښتونو، ملي او تاریخي ویاړونو ساتونکې وي.   دافسوس ځای خو لا دادی چې نیواکګر هېوادونه چې امریکا یې په سر کې را ځي لا تر اوسه پورې یوازې دستونزو په نظامي او فوځي حل باندې باور لري، خو باید په ښکاره توګه او رسا غږ سره وویل شي چې: که دوی غواړي چې له مالي او ځاني تاوانونو او تلفاتو څخه ژغورل شوي وي، نه ځان او نه یې هم خپل ولسونه په خیالي پلانونو او تصوري تګلارو سره غولولي اووخت یې نه وي ضایع کړی، او نه یې هم زمونږ ځوریدلی ولس


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له نورو ستونزو او کړاوونو سره لاس اوګرېوان کړی وي، نو اسلامي امارت دستونزې دحل یوازېنی لاره چې ددوی دژغورلو او جوړ پاتې کېدو لاره هم ده دا بولې چې نیواکګر ځواکونه زر ترزره زمونږ له خاورې څخه په پوره ډول ووزي. که دوی په رښتیا سره غوښتي وي چې د ستونزې دحل لپاره کوټلي او رېښتوني ګامونه پورته کړي، نودګوانتانامو، افغانستان، پاکستان او نورو بندی خانو کې به یې په کلونو کلونوزموږبندیان دټولونړیوالو اصولو خلاف نه سا تلی، تور لېستونه به یې له یوه مخه ختم کړی وای ، جنګې قوتونه به یې نه زیا تولی اوهغه څه چې په خوله وایې هغه به یې په عمل کې هم کولی په دې باید پوه شو چې: مخکې هم ګڼ کنفرانسونه اوغونډې شوې دي، لکه دبون، باریس او توکیو غونډې، چې ځوږ او غږ یې خورا لوړ، مصرفونه یې خورا درانده، مګر دافغانستان دستونزې په هکله یې پایلې بې اغېزې او بې ګټې را وتلې دي، ددې په ځای چې ستونزې حل او فصل کړي، لا یې پسې کړکېچنې کړېدي، ځکه چې دافغانانو په واک او خوښه نه دي شوي! او دا هم یو ښکاره او منل شوی حقیقت دی چې هره هغه غونډه چې په هغه کې دستونزې داصلي او بنسټیز حل اراده شتون ونه لري بې اغېزې او بې ګټې دي او وي به. دلندن په کنفرانس کې هم که دافغانستان قضیې ته په سم، رېښتوني او واقعي ډول ونه کتل شي، او ددې لپاره هڅې وشي چې په سیمه کې فوځي، اقتصادي، فرهنګي او سیاسي اشغال همیشنی شي، او لا پر مخ ولاړ شي، نو دا غونډه به هم دتېرو غونډو په څېر دوخت له تېرولو او ځان غولولو پرته بل څه نه وي، په پای کې باید یو ځل بیا وویل شي چې: زمونږ دمسلمان او غیرتی ولس جهاد اومقاومت دنیواکګرو دزور، ناروا او ظلم په وړاندې همېشنی، او ورځ تر بلې په خورا ځواک سره مخ په پراخېدو دی، ددښمن هېڅ چل ول اودوکې نه شي کولای چې یا یې کمزوری کړي، او یایې هم مخه ډب کړي،(ان شاالله تعالی) که څه هم چې وخت په وخت ددې هڅې شوې، او لا پسې کېږي، چې په یو ډول نه په یو ډول دغه مېړنی او مسلمان ولس اوبیا په تېره ددوی قیادت او مشرتوب ـ اسلامي امارت ـ تر خپلې اغېزې لاندې راولې، کله دا اعلان کوي چې هر مجاهد که له مقاومت او جهاد څخه لاس په سر شی، نو دوی به پیسې ورکړي، روزګار به ورته برابر کړي، او له هیواد نه بهر به دمسترح اوارام ژوند تیرولو شرایط ورته مهیا کړی!

دوی فکر کوي چې دامارت مجاهدین دپیسو لاسته راوړلو، یا واک ته دځان رسولو لپاره، او یایې هم مجبورا تورې ته لاس کړی! مګر دا ټول فکرونه بې بنسټه، تش او پوچ دي، هېڅ حقیقت نه لري، ځکه که داسلامي امارت مجاهدینو ددنیوي موخو او مادي ګټو لپاره جهاد اومقاومت کولای، نو په لومړي سر کې به یې نیواکګرو ته دغلامۍ سر ټیټ کړی او مرسته به یې ورسره کړې وای، چې په هغه وخت کې هر څه ددوی په لاس کې وو، هم آرام ژوند او هم پیسې او هم چوکۍ، خو نه او بیا هم نه، کله به هم اسلامي امارت دخپل ایمان، وجدان، خاورې او کور په سر نه دچا دزرو او نه دچا دزوراونوروشخصي امتیازاتو په مقابل کې معامله وکړي، ځکه دا رنګه کرغېړنه لوبه دافغان غیرتي ولس په تاریخ کې ځای نه لري.

نو باید ماتې خوړلی یرغلګر دښمن په حقیقت اوواقعت باندې ښه پوه شي، چې: ددوی هېڅ رنګه چل ول او دوکې به دافغان خپلواک ولس په وړاندې کومه پایله ونه لري، پرته له دې چې یرغلګر او نیواکګر زمونږ دکور او خاورې اشغال ته دپای ټکی کېږدي بله دحل لاره به بي اغیزی وی.

-

داسلامی امارت رهبری شوری


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ